# په افغانستان کې د ټولنې پر بنسټ د ناوړه پېښو د زیان مدیریت او نقشه کښنې ته کتنه

**نامزد پوهنیار شریف الله پیروز[۱]، نامزد پوهنیار حیات‌الله مشوانی[۲]**

[۱،۲] د پیښو د مدیریت ډیپارټمنټ، د چاپیریال ساتنه پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل، افغانستان
ایمیل: sharifbuarki@gmail.com

**لنډیز**

د ټولنې پربنسټ د پېښې گواښونو مدیریت هغه پروسه ده چې د پیښو پر وړاندې د ټولنې د مقابلې وړتیا لوړوي او د زیانونو کچه راټیټوي. له دې څېړنې څخه موخه داده چې په افغانستان کې د پیښو پر وړاندې تاب راوړونکي خلك، ټولنې او چاپیریال رامنځ ته شي. په دې څېړنه کې له کتابونو، نړیوالو مقالو، ژورنالونو، راپورونو او په مختلفو ولایتونو کې د ټولنې وګړو لخوا د ټولنې نقشې جوړونې له لارې روان حالت ارزوول شوی او په پایله کې په ډاګه شوې چې په افغانستان کې د ټولنې پر بنسټ د پېښو ګواښ مدیریت کچه ډېره ټیټه ده، اود شته وضعیت د بدلون او ښه والي لپاره باید د هېواد د هر کلي په کچه د پېښو مدیریت ټولنې او سازمانونه رامنځ ته او وده ورکړل شي.

**کلیدي اصطلاحات**: ټولنه؛ نقشه کښنه؛ دګواښ ارزونه؛ د پیښو مدیریت پلان؛ د پیښو مدیریت سازمانونه

# Review of Community-Based Disaster Risk Management and Hazards Mapping in Afghanistan

**Jr. Teaching Asstt. Sharifullah Peroz[1], Jr. Teaching Asstt. Hayatullah Mashwani[2]**

[1, 2] Department of Disaster Management, Faculty of Environmental Sciences, Kabul University, Kabul, Afghanistan
Email: sharifbuarki@gmail.com

**Abstract**

Community-based Disaster Risk Management (CBDRM) is the process of disaster management that increases the coping capacity of community residents against disasters to reduce their vulnerability. This study aimed to build up community capacity regarding disaster management in Afghanistan. This research is conducted based on reviews of books, international journals, and officially published reports and collecting data via social mapping at provincial levels. The result showed shallow community-based disaster risk management (CBDRM) levels. Therefore, based on this research, responsible organizations are suggested to build and increase community-based disaster risk reduction committees at the community level.

**Keywords:** Community; Mapping; Risk Assessment; Disaster Management Plan; Disaster Management Organizations

**سریزه**

په سیمه ایزه توگه د ناوړه پېښو د گواښونو مدیریت هغه پروسه ده؛ چې سیمه او په سیمه کې د پېښې د گواښ پر وړاندې زیان منونکي وگړي په فعاله توگه په تشخیص، مخنیوی، مراقبت او ارزونه کې شاملوي، چې د زیانونو کچه راکمه کړای شي او د ناوړه پېښو پر وړاندې د سیمې د وگړو وړتیا او د گواښونو مدیریت کولو فعالیتونه لوړ کړي. معنا داچې خلك اصلي تصمیم نیوونکي دي (۱). په سیمه ایزه توگه د ناوړه پېښو د گواښونو مدیریت کولو یوه غوښتنه دا ده چې د پېښو په گواښ کمونه کې د خلکو له طبیعي پوهې او مهارتونو څخه د گواښ کمونې په ستراتیژیو کې کار واخیستل شي. دا باید هیره نه کړو چې د پېښو پر وړاندې مقاومت او د خلکو هر اړخیزه ساتنه د پېښې په لومړیوکې د خلکو او ټولنې مسوولیت دی. د ټولنې خلك اصلی تصمیم نیوونکي او مدیریت کوونکٍي دي. بېوزله خلکو ته باید برابر حقونه ورکړل شي، ملاتړ ترې وشي چې د زیانمنېدو اصلي لاملونه وپېژندلای شي (۲).

**شالید**

له ۱۹۹۸م نه تر ۲۰۱۷میلادي کال پورې د اقلیمي او جیوفزیکي پېښو له امله په ټوله نړۍ کې ۱,۳ملیونه خلکو خپل ژوند له لاسه ورکړی او ۴,۴بیلیونه وگړي ټپي، بېکوره، کډوال او یا یې بیړنیو مرستو ته اړتیا پیدا شوې ده(۳). افغانستان د ناوړه پېښو پر وړاندې له زیانمنېدونکیو هېوادونو څخه دی. چې باید د پېښو مدیریت ته یې په ملي او سیمه ایزه کچه پاملرنه وشي. په سیمه ایزه کچه د ناوړه پېښو د گواښونو مدیریت له هغو پروسو څخه عبارت دی چې د سیمې وگړي پکې د گواښ او د هغه تحلیل پر وړاندې په بشپړه توگه ارزول کېږي. په دې ارزونه کې د سیمې د خلکو زیانمنېدنه او وړتیا په پام کې نیول کېږي؛ څکه چې همدغه موضوعگانې، پروژې او پروگرامونه د هغه چارو بنسټ رامنځته کوي چې د ناوړه پېښو د گواښونو د کمښت لامل کېږي. د سیمې وگړي باید د ارزونې، پلان جوړونې او پلي کېدو په برخه کې شامل شي. دا طریقه موږته ښیي چې د سیمې خلکو اړتیاوې او سرچینې په نظر کې نیول شوي دي. بله خبره دا ده چې په دې پروسه کې ستونزه باید په ډاگه او لازمې کړنې ترسره شي.

په سیمه ایزه توگه د پېښې اداره د گډونوالو لپاره داسې فرصتونه رامنځ ته کولای شي چې پوهه او مهارتونه لوړ، د خلکو په مرسته ستونزې په منظمه توگه حل، د زیانمنېدنې کچه راټیټه او وړتیاوې لوړې کړي چې د خوندیتوب او مصوونیت کلتور ته پیاوړی شي (۴). په سیمه ایزه توگه د ناوړه پېښو مدیریت د پېښو پر وړاندې د مقابلې وړتیا لوړوي. او د خوندي ټولنو په منځته راتلو سره د زیانمنېدو کچه راټیټوي. تجربو ښودلې ده چې د سیمه ایزو ټولنو رول د پېښو پر وړاندې ډېر ښکاره دی. د گواښ کچه؛ چې ډېر دی یا لږ؛ ټولنه ټاکي. دا سیمه ایزه ټولنه ده، چې د پېښو زیانونه گالي او یا یې له اغېزو

روغ رمټ وځي(۴). څېړنې ښيي چې ټولنه له پېښو سره د مقابلې لومړی زېرمه او د پېښو پر وړاندې اړینه ټولنیزه پانگه ده. له ۱۹۹۰م کال مخکې پېښو ته د چمتوالي لپاره ډېر ټینگار یوازې پر انچنیري چارو کېده. او په وگړیزه او ټولنیزه کچه د پېښو پر وړاندې د خلکو چمتو کولو ته په ( Hyogo framework) کې پاملرنه وشوه. (Hyogo framework) یو نړیوال چوکاټ دی چې په جاپان کې د بېلابېلو هېوادونو لخوا له ناوړه پېښو سره د مبارزې په موخه د( ۲۰۰۵ څخه تر ۲۰۱۵) کال پورې رامنځ ته شو تر څو د ناوړه پېښو له امله په نړیواله او سیمه ایزه کچه د مړینې او زیانونو کچه راټیټه کړي د یادونې وړ ده چې افغانستان هم د دې چوکاټ غړیتوب درلود. بنسټي موخه یې دا وه چې خلک د پېښو پروړاندې چمتو، ملی احساس پکې پیدا او رضاکار سازمانونه رامنځته کړي چې په مرسته یې د پېښو له گواښونو څخه خپل کلی او سیمه وساتلای شي (۵). په سیمه ایزه توگه د ناوړه پېښې د مدیریت څخه یوه موخه داده چې باید د پېښو پر وړاندې مقاوم او غښتلي خلک، ټولنه، چاپېریال او هېوادونه رامنځ ته شي (٦). په سیمه ایزه توگه د پېښې مدیریت پروگرامونو مشري د ټولنې پر غاړه وي. ځینې پروگرامونه بیا ( دولتي او نادولتي، عامه او خصوصي، سیمه ایز او مرکزي ) سازمانونه د ټولنې په همغږۍ مخته وړي (۱). په سیمه ایزه توگه د ناوړه پېښې مدیریت پروسه په ترتیب سره اووه پړاوونه لري، چې له پېښې د مخه او وروسته باید پلي شي. هر پړاو له بل پړاو سره اړیکه لري چې د یو لړ زیاتو کړنو اړتیا په کې لیدل کېږي. د پلان ترتیب او د هغې پلي کېدو لپاره سیستم جوړول د یوې ناوړه پېښې د گواښونو مدیریت لپاره یوه مهمه وسیله ده.

**څېړنې موخې**

د څېړنې موخه په افغانستان کې د ټولنې پر بنسټ د پېښو مدیریت تشریح اوتوضیح ده.

**څېړندود**

په دې څېړنه کې له کتابونو، نړیوالو مقالو او همدغه راز د ټولنې پر بنسټ د ټولنې د وگړو له خوا په بېلابېلو ولایتونو کې د ټولنې د نقشو جوړولو له لارې د شته وضعیت ارزول دي.

**د څېړنې پوښتنې**

الف. د ټولنې پر بنسټ د پېښو مدیریت په څه ډول دی؟

ب. په افغانستان کې د ټولنې پر بنسټ د پېښو مدیریت په کومه کچه دی؟

**د څېړنې موندنې**

د څېړنې موندنې، اووه بېلابېل پړاوونه په گوته کوي چې د ناوړه پېښو گواښونو د مدیریت په برخه کې ترې گټه اخستلای شو دا پړاوونه په لاندې ډول تشریح او توضیح کوو(۴).

**د سيمې او ټولنې ټاکنه**

د سيمې ټاکنه هغه پروسه ده چې د معيارونو له مخې پکې يوه ډېره زيانمنېدونکې ټولنه ټاکل کېږي چې د ګواښونو په راټيټېدو کې ورسره مرسته وشي. (Gupta and Barman) (۷) په دې اړه سمه پرېکړه؛ چې کومه سيمه بايد وټاکل شي يا چيرته بايد کار وشي يو لړ معيارونو ته اړتيا لري چې بايد په دې پروسه کې د سمې ټاکنې لپاره په پام کې ونيول شي؛ نوموړي معيارونه له ګواښ سره د ټولنې مخ کېدل، ډېره زيانمنېدونکې ټولنه، د هغه خلکو شمېر چې د ناوړه پېښې د ګواښونو مديريت له پروګرام څخه ګټه اخلي، د سيمه ايزې ټولنې چمتوالي کچه چې د ناوړه پېښو د ګواښونود کموالي مديريت په برخه کې ونډه اخلي، ټولنې ته لاسرسی او د کارکوونکو ساتنه او خونديتوب دي (۷).

لمړی جدول: د سيمې د ټاکنې معيار

| سيمه | زيات زيانمنېدونکي | د ګټه اخيستونکو شمېر | چمتووالی | لاسرسی | ټول |
|---|---|---|---|---|---|
| خوړيانی | //// | /// | / | / | //////// |
| بهسود | /// | // | / | // | /////// |
| دره نور | //// | // | // | / | //////// |
| مومندره | | | | | |
| هسکه مېنه | | | | | |

**د ملګرتيا فضا رامنځته کول**

په دې پړاو کې د سيمې خلکو سره اړيکه نيول کېږي او باور لوړيږي. کله چې اړيکه ټينګه شي د ټولنې عمومي حالت او د هغې سياسی، اقتصادي او ټولنيز اړخونه پېژندل کېږي. کله چې د ګواښ ارزونې مرحله له خلکو سره يوځای تر سره شي، ټولنه حرکت کولو ته لېواله کېږي. د ملګرتيا او اړيکې ټينګول د مناسب ګډون لپاره خورا مهم دي. کله چې د سيمې خلکو باور ترلاسه او په ښکاره ډول په مسايلوکې شريک شي، نو ستونزو او انديښنو ته حل لارې پيدا کېږي. کله چې اړيکې پياوړې کېږي، امکان لري چې د سيمه ايز رواج او کلتور په هکله زيات معلومات تر لاسه شي. د سيمې خلکو په اړوند د لا زياتو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره بايد لاندې ټکي په پام کې ونيول شي(۸). د سيمې خلکو سره اوسېدنه، په دې هکله خلکو ته ريښتيني معلومات ورکول چې زه څوک يم او څه غواړم ترسره يې کړم، د خلکو سره په ورځني کلتوری ژوند، فرهنګي چارو، رواجونو او دودونو کې برخه اخيستنه، د سيمې خلکو د ژوندانه کېسو، ستونزو او مسايلو اورېدل، دسيمې له خلکو د نويو مهارتونو زده کول او ټولنيزو چارو ترسره کول اړين دي. د سيمه ايزې ټولنې پېژندل ډېر اړين دي، بايد د معلوماتو راټوليدنه وکولای شي

د ټولنې ماهیت، اړتیاوې، منابع او د ټولنې پراختیا لپاره چوکات ځانګړی او مشخص کړي. د ټولنې پراختیا طریقه او هغه اغېز ې چې ناوړه پېښې یې پر ځای پرېږدي وپېژني. لازمه ده چې ټولنیز-اتنیکی، طبقه ای، مذهبی او ژبنیز ګروپونه وپېژنئ. څوک ډېر او څوک کم دي او تر منځ یې اړیکې څه ډول دي، کورنی، ټولنیز او کلتوري مناسبات څه ډول ترتیب شوي، د مرستو لړۍ څه ډول ده، عمده او بنسټي زیرمې کومې دي، د ژوندانه چارې له موسم او اقلیمی شرایطو سره څه ډول اړیکه لري؟ د بیړنې چمتوالي په هکله معلومات، کورونه چېرې موقعیت لري، ښوونځي او کلینیکونه په کوم ځای کې دي، څوک ډېر زیانمن شوي دي، د ژوندانه زېرمې کومې دي؟ د خلکو کلتوری موقف څه ډول دی؟

**د پېښو د ګواښونو ارزونه**

دا پړاو د تشخیص پړاو دی. په دې پړاو کې هغه ګواښ چې ټولنه ورسره مخ ده او ټولنه څرنګه کولای شي پر ګواښ برلاسې شي؛ ښودل کېږي. په دې پروسه کې د ګواښ ارزونې، د زیانمنېدنې ارزونې او د وړتیا ارزونې ته اړتیا لیدل کېږي. کله چې ارزونه کوو باید د ګواښ په اړه د خلکو پوهه په نظر کې ونیسو (۹).


دویم جدول: د پېښې ګواښ د ارزونې طرح

| ګواښ ارزونه | موخې | محصول |
|---|---|---|
| لومړی | په سیمه ایزه ټولنه کې د ګواښ په اړه ووایئ؟ | د ګواښونو ماهیت او لیست، د سیمه ایزې ټولنې د ګواښ نقشه،دسیمه ایزې ټولنې منابع |
| دویم | دګواښ نقشه ترتیب کړئ | د سیمې نقشه او د هغې منابع |
| دریم | زیانمنېدنه او دسیمه ایزې ټولنې د نارینه او ښځینه ظرفیت بیان کړئ | د ظرفیت د زیانمنېدنې تحلیلول |
| څلورم | د ناوړه پېښې ګواښ وپېژنئ | د ټولو هغو ګواښونومکمل لیست چې ټولنه ورسره مخامخ ده |
| پنځم | د ناوړه پېښې ګواښونه ډلبندي کړئ | د لومړیتوب حق له مخې ګواښونه لیست ترتیب کړئ |
| شپږم | د منلو وړ ګواښ لپاره چمتووالی | د هغه ګواښ بنسټ چې کورنۍ اوټولنه ورسره عادت شوې ده. |
| اووم | د پېښې له ګواښ سره ژوند، د خلکو ایستل، د ګواښ کموالي، اویا مخنیوي په هکله پرېکړه | هغه ستراتیژي چې موافقه پرې شوی وي |

**د سیمې منابع او ګواښونو لپاره نقشه برابرول**

سیمه ایز خلک په دې پوهېږي چې په سیمه کې له کوم ډول پېښې سره مخامخ دي. سیمه ایز خلک اړتیا نلری چې د ګواښونو نقشه رسم کړي. دا نقشه د بهرنیو کارکوونکو او دولتي مؤسسو لپاره چمتو کېږي. د پېښو نقشه او منابع د سیمې خلکو لپاره یوه وسیله ده، چې په ګرافیک ډول د سیمه ایزې ټولنې

زیانمنېدونکي غړي لکه سپین ږیري، ښځې، ماشومان او معلول کسان کوم چې د پېښو له ګواښ سره مخامخ وي، پکې پېژندل کېږي. دا وسیله د سیمه ایزې ټولنې غړو ته توان وربښي چې خپلې منابع وپېژني او خپلې وړتیاوې وارزوي. د سیمې ځینې وګړي د دې ډول نقشو په جوړولو کې ځانګړې مهارت لري (۱۰).




لمړی انځور: افغانستان کې د سیلابي سیمو نقشه (WFP HQ Emergencies 2019)

### ترانسیکت یا پلې ګرځېدا

ترانسیکت یوه په زړه پورې چاره ده، چې په سیمه کې له پلې ګرځېدا څخه عبارت ده. په دې قدم وهلو کې یو تګ لوری په پام کې نیول کېږي. کله چې غواړو له یو شخص څخه معلومات ترلاسه کړو،غوره ده چې نوموړی شخص ته د قدم وهلو یا ترانسیکټ بلنه ورکړو. او که چېرې غواړو چې د یوې لارې دواړه طرفونو، سړک او یا سیندونو، باغونو، غونډیو، زیانمنونکې سیمې، ځنګلونو او نورو نقشه رسم کړو پدې صورت کې به هغه سیمې او کلي چې د پېښو پر وړاندې زیانمنونکي وي په نقشه کې په ښه ډول وښودل شي (۱۱).

### تاریخي ترانسیکت یا قدم وهنه

تاریخي ترانسیکت په تاریخي ډول سره ګواښوونکې پېښې او سیمه ایزې ټولنې ته د پېښې ګواښ زیاتوالي په ګرافیکه بڼه څرګندوي. د سیمې اوسیدونکی کولای شي خپل پنځه یا لس کلن تیر تاریخ مطالعه کړي. شاید د دوی د ژوند وروستي پنځه کلونه د پېښو اغېز و لپاره خورا ګټور وي.

### د پېښې مدیریت ګډ پلان

دا مرحله د ګواښ اغېز و ارزونې د پایلو له تحلیل وروسته ترسره کېږي. خلک د ګواښونو د راکمولو په طریقه پوهېږي. دا کړنه به د زیانمننې کچه راټیټه او وړتیا لوړه کړي. د ګواښ دا ډول راکمونې ته د

ټولنې پر بنسټ د پېښې ګواښ مدیریتی پلان کې هم یادونه شویده او پلان له همدې موضوع پیلېږي، چې ناوړه حالتونه څه ډول بدل کړو، دپېښې ګواښ عملیاتی پلان پدې هیله پیلېږي چې څرنګه خپل ځان، کورنۍ او سیمه ایزې ټولنې ته اسانتیاوې رامنځته کړو. د ناوړه پېښې مدیریت لپاره ګڼ پلان هغه پروسه ده چې ټول اړخونه پکې د ګواښ کمونې لپاره په زړه پورې کړنلاره وړاندې کوي. دا کړنلاره په لاندې موضوعاتو باندې ولاړه ده (۱۲): د ګواښ منلو وړ کچې په ګوته کول، باید پرېکړه وشي چې د پېژندل شوي ګواښ مخنیوی وکړو، کچه یې راټیټه کړو، بل ځای ته یې ولېږدوو او یا هم باید ورسره ژوند وکړو او له خپلو شته وړتیاوو او زېرمو څخه کار واخلو یا له ټولنې څخه بهر وړتیاوې او زېرمې تر لاسه کړو. پر دې سربیره لاندې فکتورونه هم د پېښو مدیریت په ګڼ پلان کې باید په نظر کې ونیسو.

هیله مندی: د پېښو پر وړاندې زیانمنه ټولنه څرنګه یوه خوندي ټولنه غواړئ او څنګه یې رامنځته کولای شئ؟

خبرې اترې: د خوندي ټولنې په هکله خبرې اترې چې څنګه رامنځ ته کېدای شي او شرایط ورته څرنګه برابریدلای شي د ټولنې خلک په دې اړوند کافي مهارتونه لري.

موخه: باید ښکاره او د اندازه کونې وړ وي.

د ګواښ کمونې لپاره لارې چارې غوره کول.

د ګواښ کمونې لپاره د اقداماتو ترسره کولو وخت او نیټه باید څرګنده وي.

**د اړتیا وړ سرچینو په ګوته کول**

په یوه سیمه کې د ګواښ کمونې لپاره کومو زېرمو ته اړتیا ده باید په ګوته شي.دلته شته ظرفیتونو او امکاناتو ته چې په ټولنه کې موجود دي کتل کېږي چې زیانمنه ټولنه یې د ناوړه پېښو پر مهال کاروي. دا کار د ګواښ ارزونې پروسې په لومړیو کې تر سره کېږي. دلته ټولنه هغو ظرفیتونو ته لومړیتوب ورکوي چې خپلو هیلو ته پرې رسېدلای شي. د یادولو وړ ده چې هره زیانمنه ټولنه یو لړ وړتیاوې او ظرفیتونه لري چې د ناوړه پېښو پر مهال ترې ګټه اخیستلای شي. او هغه منابع چې په ټولنه کې نه وي او د ناوړه پېښې پرمهال ورته اړتیا پېښېږي مشخصېږي.

دریمجدول: په سیمه ایزه کچه د پېښو پلان

| پېښې | **سیلاب، زلزله، ځمکښویدنه، اورغورځوونکی او وچکالي** | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| **موخې** | د تخلیې منظم پروګرام، په سیمه ایزه ټولنه کې د زیانمنو خلکو پلټنه او ژغورنه | | | | |
| **شاخصونه** | د مړینې بنسټ صفر ته راټیټول | | | | |
| **کړنې** | زماني چوکات | سرچینو ته لاسرسی | د اړتیا وړ سرچینې | د اړتیا وړ سرچینو اندازه | د سیمې خلکو مسوولیت |
| **سیلاب** | | | | | |
| **د تیارې وخت** | د اوربښت له فصل مخکې له حمل مخکې | کورنی، ټولنه، جوماتونه او سیمه ایز خلک | لاسي راډیوګانې | | د تخلیې ګروپ |
| **د تخلیې تمرینونه** | مهارت او پوهه | | پړی یا رسۍ | | |
| **تعلیم او تربیې لپاره کمپاین** | د اوربښت له فصل مخکې له حمل مخکې | د سیمه ایزې ټولنې سپین ږیري د تخلیې ګروپ معلمان او ملایان، هنرمندان، د مکتبونو پوسټرونو لپاره کاغذ او مارکر | د عامه پوهاوي تربیوی پروګرام | | د زده کړو او د ښوونکو تعلیم تربیې پروګرام |

**په سیمه کې د پېښو ګواښونو مدیریت لپاره د مؤسسو رامنځته کول او روزنه یې**

د پېښو ګواښ د سیمه ایزې ټولنې د تنظیمولو په وسیله په ښه ډول مدیریت کېدای شي. دا کار د ګواښونو کمونې پلانونو په پلي کولو سره تر سره کېدای شي. په دې صورت کې اړینه ده چې د سیمه ایزې ټولنې په کچه سازمان رامنځ ته شي، په دې شرط چې کوم بل سازمان نه وي. او که بل سازمان وي، نو نور دې هم پیاوړی شي. د ټولنې د غړو او مشرانو ارزونه ډېره اړینه ده. د ګواښ کمونې پر وړاندې له اغېزمنې طریقې څخه د ګټه اخیستلو لپاره باید د ټولنې په کچه سازمان وي، چې د پېښې ګواښ مدیریت کړي. د سازمان رامنځته کول او څرنګوالی د ټولنې له شته وضعیت سره تړاو لري. په ټولنه کې موجود سازمان باید وپېژندل شي، د پېښې ګواښ مدیریت کمېټه، باید په سازمان کې یوه کمېټه وي، که سازمان نه وي، باید رامنځ ته شي. د ټولنې په کچه د پېښې ګواښ له مدیریت څخه هدف دادی چې ټولنه د پېښو پر وړاندې چمتو کړي او په اوږده موده کې لاندې کړنې تر سره کړي (۱۳).

۱. د ټولنې سازمان (انجمن) رامنځته کول

د ټولنې په کچه د پېښو مدیریت لپاره د ټولنې سازمان رامنځ ته کول یوه اړینه مسأله ده چې د ځای/محل غوراوی، دوستانه اړیکې جوړول، د شته وضعیت ارزوول، د لومړیتوب حق پر بنسټ د سکتورونو

تعینول، د ټولنې لپاره د ګواښ کمولو پلانونه او د لارو اسانتیاوو برابرول باید په کې په نظر کې ونیول شي.

۲. د سازمان چارې

د سازمان په چارو کې باید تر ګواښ مخکې دندې، د ګواښ په ترڅ کې دندې او د ګواښ څخه وروسته دندې تر سره شي.

۳. چمتووالی

له ټولنې سره باید د پېښو پر وړاندې د مبارزې پلان ترتیب او شریک شي او د پلي کولو لپاره یې باید ټولنه وهڅول شي. هغې سرچینې چې په ټولنه کې نه وي باید له اړوندو ادارو تر لاسه شي. پېښو ته د ښه چمتووالي په موخه باید ټولنه وروزل شي او ټولې هغه کړنې چې له پېښې مخکې د پېښې په ترڅ کې او له پېښې وروسته یې باید ترسره کړي ورته په ګوته شي. د پېښې سیمه وڅارل شي، ټولنې ته تمرین ورکړل شي چې داسې پایلې تر لاسه کړو چې د ترتیب شوي پلان د عملي کېدو لامل شي. د ګواښونومدیریت له ټولنیزو کمېټو، نا دولتي ادارو او نورو سره همغږي رامنځته شي. د سیمه ایزې ټولنې څخه د ملاتړ په پار باید یو لوی کمپاین وشي او د هغه کسانو شمېر زیات شي چې د ګواښونو مدیریت په ټولنیزو کمېټو کې دندې ترسره کوي.

۴. بیړنی دندې او چارې

د ګواښ اعلان، د پلټنې ترتیبول، د لومړنیو او مرستندویه توکو برابرول، د ظرفیت ارزوونه، د پلان همغږي کول، د تخلیې (ایستنې) تنظیمول، ژغورنچارې، د بیړنی حالت د اړتیاوو پېژندل، (حکومت او اړوند ادارو ته) د بیړني حالت راپور ورکول او د پېښې پر مهال د زیانمنو خلکو د انتقال عملیات هغه دندې دي چې باید ژر تر ژره ور باندې غور وشي او تر سره شي.

۵. د انجمن بیارغونې دندې

ټولنه باید له ټولنیز، اقتصادی او فزیکي پلوه وژغورل شي. د ژوند اړتیاوو ته شرایط برابر او کارونه باید په مشوره سره ترسره شي، کورونه جوړ او ځانګړي بنسټونه ورغول شي.له حکومت او هغو مؤسسو سره چې د بیا رغونې په برخه کې مرسته کوي همغږي وشي. دا زموږ سره مرسته کوي چې ډاډ تر لاسه کړو چې د احیاء او بیا رغونې په برخه کې دګواښ کمولو لارې چارې شته.کړنې باید وارزول شي، په ځانګړي ډول اغېزمنتوب او وړتیا یې چې د خوندیتوب کچه لوړه او د لا ډېرو اصلاحاتو لپاره ستراتیژي رامنځ ته شي.

٦. د دندو ځانګړنې

د پېښو کمېټې غړي باید په یوه خوله او د خلکو خدمت ته چمتو وي چې په اوږده مهال کې وکولای شي یوه پیاوړې او تلپاتې ټولنه رامنځته کړي. د پېښو کمېټې دندې باید لاندې ځانګړتیاوې ولري:

- د پېښو مدیریت په کمېټه کې د زیانمنو ګروپونو د استازو ګډون؛
- د تاکنیز مشرتابه لرل؛
- پر پلان، پالیسي او طرزالعمل باندې د پېښو مدیریت کمېټې د غړو هوکړه؛
- دپېښو ګواښ مدیریتي کړنو لپاره په سرچینو باندې هوکړه او مالي ملاتړ تر لاسه کول؛
- د پلان پلی کولو لپاره د ټولنې هڅونې اوتنظیمولو ژمنه؛
- له هغو فکتورونو خبرېدا چې د ټولنې په زیان وي؛
- د پېښو مدیریت کمېټو غړي باید د ګواښونو مدیریت کې پوره وړتیا ولري.

۷. د ټولنې تنظیمولو پرنسیپونه

خلک د سیمه ایزو پېښو په هکله کافي معلومات لري او د مسوولوکسانو په پرتله د سیمې پر پېښو ډېر ښه پوهېږي او په دې اساس یې باید خلک پخپله ابتکار وکړي. دې ته مو باید پام وي چې سازمان وسیله ده؛ نه هدف. یواځې د سازمان جوړول کافي نه دي د سازمان دنده داده چې هدف تر لاسه کړي (هدف د یوې تلپاتې او پیاوړې ټولنې له رامنځته کېدو څخه عبارت دی).

له اسانه یې پیل کړي د کړنو اندازه باید کوچني وي وروسته لویېدای شي. له شته وضعیت څخه ښه لورې ته تلل د ټولنې ګډون ته اړتیا لري. دا پرنسیپ د رایو پراتفاق د ټولنې په تنظیم ټینګار کوي. د پېښو مدیریت مسوولین باید خلک وهڅوي او له هغوی سره مرسته او همکاري وکړي، شمېر یې زیات کړي او تر منځ یې اتفاق راولی او دا د یوه مناسب پرنسیپ په مرسته ترسره کېږي.

**د سازمان روزنه**

د روزنې او پالنې هدف دادی چې ظرفیتونه لوړ شي او دندې په ښه توګه ترسره شي. ازادانه کار وشي تردې چې د ګواښ کچه راټیټه شي. د روزنې لپاره باید دوه ټکي په پام کې ونیول شي. او هغه دا چې د ټولنې اړتیاوو ته په کتو د پېښې د مدیریت برخه کې روزنه او د سازمان پراختیا او مدیریت برخه کې روزنه په پام کې ونیول شي.د ټولنیز سازمان پراختیا او مدیریت په برخه کې روزنه باید د لاندې ټکو درلودونکې وي.

**د پېښې پر وړاندې چمتوالی**

**ظرفیت لوړونه**

د ټولنیز سازمان غړو او کارکوونکو ته باید د سازمان د پراختیا او مدیریت روزنه ورکړل شي چې د سازمان دندې او رول په اغېز منه توگه تنظیم کړای شي. په روزنه کې باید رهبري، پلان جوړونه، خبرې اترې، د شخړو حلولو کړنلارې، د بودیجې تنظیمول، د وړاندیزونو او گزارشونو لیکلو مهارتونه او د ملاقاتونو لپاره د اسانتیاوو برابرول شامل وي.

**د روزنیز پروگرام د طرح پروسه**

د اړتیاوو ارزوونه، د زده کړیزو موادو طرح او برابرول، د زده کړې تطبیق، ارزونه، نظرغوښتنه او بیا کتنه هغه مهمې او بنسټي کړنې دي چې باید د روزنیز پروگرام د طرح او ډیزاین کولو لپاره په نظر کې ونیول شي او په مرسته یې د پېښو پر وړاندې مهمې کړنې تر سره شي.

دسیمه ایزې ټولنې له لوري د چمتو شوي پلان پلي کول

د سیمه ایزې ټولنې پرکچه د پېښو گواښ مدیریتی مؤسسو رامنځ ته کول او ارزونه به د سیمه ایزې ټولنې پلان ته زمینه برابره او د ټولنې ټول غړي به د پلان له فعالیتونو څخه ملاتړ ته وهڅوي.

د پلان پلی کولو څرنگوالی

د گواښ کمونې چارې باید د پلان له مخې ترسره شي. پلان باید د وخت سره سم او شته سرچینو ته په کتوسره پلی شي.

**دندې**

د دندو په ښه او دقیق ډول ترسره کولو لپاره باید د گواښ د انتقال کمېټه، د روغتیا کمېټه، د کرنې کمېټه، د تخلیې کمېټه، دخبر ورکونې کمېټه او داسې نورې کمېټې رامنځ ته شي. د هرې کمېټې مسوولیت معلوم شي. د وړتیاوو لوړول، د سرچینو تنظیمول، ارزونه او کتنه، د سرچینو د تنظیم، گډې څارنې او د پلان یا هدف د یووالي لپاره د اسانتیاوو رامنځ ته کول، د پلان د گډ تطبیق د پروسو پرنسیپونه، دټولو لیواله لورو سره مشوره، خبرې اترې، پروسه د ترتیب له نظره، دوراني پروسې، منظم تحلیل، کلتوری حساسیتونه او روڼتیا هغه کارونه دي چې باید په سم ډول د نوموړو کمېټو له لوري سرته ورسیږي. د رایو په اساس د پلان تطبیق کولای شي د پېښې پر وړاندې ثبات او مقاومت رامنځ ته کړي. د دې کمېټو په مرسته به هغه فعالیتونه چې په پلان کې ځای پرځای شوي د تطبیق وړ وگرځي.

**پر تولنیزه کچه د پېښو مدیریت څار او ارزونه**

د پېښو د ګواښونو مدیریت سازمان باید د ګډ څار لپاره اقدامات وکړي چې پراختیایي پروګرامونه د ګواښ کمونې له اصولو سره سم پر مخ ولاړ شي. مراقبت کوونکي باید د فعالیتونو پرمختګ د وخت، بودجې، شاخصونو، اهدافو لاسته راوړنې او ګواښ کمونې لارو چارو مؤثریت ته په کتو مشاهده کړي. همدارنګه مراقبت کوونکي باید هغه کسان چې له پېښې څخه زیانمن کېږي او هغه کسان چې له سیمې وتلي وي د وتلو په دلایلو یې ځان وپوهوي. د څار سیستم باید د ټولو دخیلو اړخونو لپاره رامنځ ته شي چې د خلکو ټولې اړتیاوې په سم ډول وپېژني، تحلیل یې کړي او په ښه ډول ترې څارنه وشي. چې د ګواښ کمونې لپاره لارې چارې لټوو باید پراختیایي پروګرامونو ته دوام ورکړو، دا پروسه باید د سیمه ایزې ټولنې د تنظیم د پروسې یوه اړینه عملي برخه وي.په سیمه ایزه کچه د پېښومدیریت سازمان (ټولنه) باید له ټولو کسانو سره پرله پسې ناستې ترسره کړي. د پرمختګ څخه د لیدنې په موخه باید هره اونۍ، ۱۵ورځنۍ ،میاشتنۍ او یا څلورمیاشتنۍ ناستې تر سره شي. د ناستو دایرول د پروژود دوام، د پېښو ګواښ کمونې پلان اړتیاوو او د خلکو او اړوندو مؤسسو اندیښنو ته په کتوسره ترسره کېږي چې د ټولو خلکو او پروګرام عملي کوونکو راپورونه پکې ارزول کېږي (۱۴). په مشترک ډول د کړنو ارزونې سربېره، باید لیکلی راپور څخه هم ګټه واخیستل شي، چې پرمختګ څخه څارنه وشي او مستند شي. راپور باید داسې وي چې د تمویلوونکو او ګډونوالو غوښتنې تر لاسه کړي. د راپور پرستونزو باندې خبرې اترې وشي او تمویلوونکو ته د منلو وګرځي. په عمومي ډول په راپور کې لاندې مهم معلومات لکه لاس ته راغلې موخې، هغه مؤسسه چې راپور یې چمتو کړی، د راپور لیکلو وخت، د چارو پرمختګ، د شاخصونو لاسته راوړنې، د موخو لاسته راوړنه، هغه ستونزې چې ورسره لاس او ګریوان وو، کړنې چې د ستونزې اوربدلو وروسته ترسره شویدي، وړاندیزونه او مالي راپور ځای پرځای کېږي.

**پایلې**

پایله په ډاګه کوي چې د ټولنې په کچه د پېښو مدیریت د ټولنې زیانمن قشر او خلک د زیان د راکمولو او د وړتیا لوړولو لپاره د پېښو د ګواښ کمونې په بېلابېلو مدیریتي پروسو لکه تشخیص، تحلیل، مخنیوي، څار او ارزونې کې شریکوي. له دې ډول پروسې سره په علمي ډول تر اوسه په افغانستان کې خلک بلدتیا نلري. د ټولنې پر کچه د پېښو په مدیریت کې باید د ټولنې وګړي د افغانستان د مهمو پېښو لکه سیلابونو، زلزلو، وچکالیو، ځمکښویدنې او واورې ښویدنې پر وړاندې فعال ګډون ولري(۱۵). په علمی ډول یې مخنیوی وکړي او د زیانمننې او ګواښونو د کموالي سبب وګرځي. څېړنو ښودلې ده چې افغانستان تر ډېره د پېښو تر ګواښ لاندې ندی ولې دهغو هېوادونو له ډلې څخه دی چې د پېښو

پروړاندې ډېر زيان منونکی دی (١٦). کله چې پېښې رامنځ ته کېږي خلک يې په طبيعي ډول پر وړاندې هغه کړنې ترسره کوی چې په وس يې پوره وي. د فقر لوړه کچه، د کاری فرصتونو نشتوالی، روغتیايی ستونزې، د زيربناوو کمزوری ډیزاين، د پېښو او ګواښونو په هکله د عامه پوهاوي نشتوالی، د ښارونو چټکه پراختيا، په ښاري او ليرې پرتو سيمو کې بې پلانه پراختيا او غرنيزو سيمو ته نه لاسرسی هغه لاملونه دي چې د دې هېواد په زيانمن کېدو کې لويه ونډه لري او دا هېواد يې د پېښو پر مهال له ګڼو ستونزو سره لاس او ګريوان کړی دی (١٦). د ټولنې پر بنسټ د پېښو مديريت په افغانستان کې شتون لري خو په علمي او بنسټيز ډول لا هم وګړي په مديريتي پروسو کې ګډون نه لري اويا يې د ګډون کچه ټيټه ده. خو دا چې خلک په څه ډول له خپلو شته زېرمو څخه ګټه پورته کړي، بايد د عامه پوهاوي کچه يې لوړه، روزنه ورکړل شي تر څو د پېښو پر مهال د ځان او ټولنې د خونديتوب احساس په کې راژوندی او وده وکړي.

**وړانديزونه**

- د ټولنې پر بنسټ د ناوړه پېښو مديريت کچه ټيټه ده نو اړينه ده چې خلک د پېښو مديريت په بېلابېلو پړاوونو لکه تشخيص، تحليل، ارزوونه، څار او مخنيوي کې شريک شي.
- په ټولنيز ډول د پېښو مديريت کمېټې، سازمانونه او رضاکارانه ټيمونه بايد وي، که نه وي بايد رامنځته شي او که وي نور هم بايد وده ورکړل شي.
- په ټولنيزه کچه د پېښو مديريت کمېټې او سازمانونه بايد د ټولنې د سپين ږيرو او مشرانو د تجربو او مشورو څخه ګټه واخلي.
- د پېښو پر وړاندې د مبارزې ملي اداره (ANDMA) بايد دې رضاکارانه ټيمونو ته د لا غوره کړنو په موخه ټرينينګونه ورکړي.

## سرچينې

(1) Zwi A. Do community based disaster risk management ( CBDRM ) initiatives reduce the social and economic cost of disasters ? EPPI-Centre Social Science Research Unit Institute of Education University of London,2013.

(2) Le-Huu etjzt. cbdrm and Poverty Reduction. 2007;35.

(3) Sarabia MM, Kägi A, Davison AC, Banwell N, Montes C, Aebischer C. The challenges of impact evaluation: Attempting to measure the effectiveness of community-based disaster risk management. Internationl Journal of Disaster Risk Reduction. 2020;49.

(4) Salajegheh S, Pirmoradi N. Community- Based Disaster Risk Management (CBDRM) and Providing a Model for Iran. Int J Enginnering Res Dev. 2013;7(9):60–9.

(5) Differences G, Matter D. Disaster Management and Social Capital in Cases of Shinjuku-ku : 2012;3(3):71–90.

(6) Disaster A. Commuity-based Disaster Risk Management.Critical Guaidline asian disaster preperedness center, 2020.

(7) Gupta R, Barman A. Asian Community Based Disaster Risk Management-A Bi-Decadal Review.2021.

(8) Minh LN, Maerten B. Growing a better future in Vietnam: Expanding rights, voices and choices for small-scale farmers. 2012;

(9) Zweig PJ. Collaborative risk governance in informal urban areas: The case of Wallacedene temporary relocation area. Jàmbá J Disaster Risk Stud. 2017;9(1):1–7.

(10) Samaddar S, Chatterjee R, Misra BA, Tatano H. Participatory risk mapping for identifying spatial risks in flood prone slum areas, Mumbai. B. 2011;54(B):137–46.

(11) Center ADP, ESCAP UN. Community-based disaster risk management: field practitioners' handbook. 2004;

(12) Zubir SS, Amirrol H. Disaster risk reduction through community participation. WIT Trans Ecol Environ. 2011;148:195–206.

(13) Niekerk D Van, Nemakonde LD, Kruger L, Forbes-Genade K. Community-based disaster risk management. In: Handbook of disaster research. Springer; 2018. p. 411–29.

(14) Lassa JA, Boli Y, Nakmofa Y, Fanggidae S, Ofong A, Leonis H. Twenty years of community-based disaster risk reduction experience from a dryland village in Indonesia. Jàmbá J Disaster Risk Stud. 2018;10(1):1–10.

(15) Afghanistan disster risk profile. 2017.

(16) OCHA. Managing Natural Disaster in Afghanistan.Risk ,Vulnerability and Capacity; 2020.